بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۷گڼه مرغومي۱۴۰۳ : شماره (۳۷) جدی ۱۴۰۳ : صفحه اول : لومړی مخ



# اوونیزه راستنېدنه عودت هفته نامه

علم دهرډول یرغل پر وړاندې له ځانه د دفاع یوازینۍ وسیله ده .
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د نړیوالو همکارو بنسټونو د تخنیکي ټیم غړو ګډه ناسته وشوه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د نړیوالو همکارو بنسټونو د تخنیکي ټیم غړو د بایومټریک شویو ۱۱۱ بېځایه شویو کورنیو د لېږد ناسته د وزارت د داخلي بېځایه شویو وضعیت ته د رسېدنې رییس په مشرۍ ناسته وکړه.

لومړی د تخنیکي ټیم غړو او د ناستې ګډونوالو د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د شهادت په مناسبت د تسلیت مراتب وړاندې کړل او نوموړي ته یې دعا وکړه.

ښاغلي شیرزاد د ناستې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او د نننۍ ناستې هدف یې د بېځایه شویو کورنیو خپلو سیمو ته لېږد یاد کړ.

هغه وویل: خپلو سیمو ته د دغو کورنیو لېږد پخپله خوښه دی. اسلامي امارت تل د خپلو خلکو په خدمت کې دی او د دغو کورنیو د لېږد لپاره به هر ډول همکارۍ و نه سپموي او دغه راز په دې برخه کې د همکارو بنسټونو له همکارۍ څخه مننه کوو چې خلکو ته د رښتیاني خدمت په رسولو کې زموږ همکاري کوي.

د تخنیکي ټیم غړو او د ناستې ګډونوالو د خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه: په راتلونکي اونۍ کې د دغو کورنیو لپاره چې خپلو سیمو ته لېږدول کېږي د عامه پوهاوي پروګرام جوړوو، چې پخپل وخت ولېږدول شي او له مرستو څخه برخمن شي.



## ورکشاپ یکروزه ترتیب پلان و راپور دهی، در وزارت امور مهاجرین برگزارشد



ورکشاپ یک روزه ترتیب پلان و راپور دهی برای شماری از کارمندان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با همکاری کارشناسان معاونیت پالیسی ریاست عمومی اداره امور ریاست الوزرا، امارت اسلامی، در تالار کنفرانس های وزارت برگزارشد.

مولوی محمود الحق احدی، رییس پالیسی و پلان وزارت در مورد اهمیت پلان و گزارش دهی روشنی انداخته و برگزاری این ورکشاپ را به خاطر ارتقای مهارت کارمندان در زمینه ساختن پلان های جامع یک اقدام موثر دانست.

در این ورکشاپ در مورد پلان، راپور دهی و بودیجه به مدیران اجرایی و مسئولان گزارش‌دهی ریاست ها از سوی کارشناسان ریاست عمومی اداره امور با ارایه پرزنتیشن تشریح شد.

## د هېواد د ځینو ولایتونو سیمه ییزو چارواکو د شهید حقاني د فاتحې مراسم ترسره کړل



د پکتیا، لوګر، کندهار، بادغیس، پنجشېر، نیمروز او دایکندي ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو او آمریتونو د معلوماتو له مخې د دغو ولایتونو د والیانو له هدایت سره سم د مهاجرینو او راستېدونکو چارو وزارت وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې مراسم ترسره شول.

په دغو مراسمو کې والیانو، مرستیالانو، علماوو، قومي مخورو او عامو خلکو برخه اخیستې وه.

ګډونوالو د شهید حقاني هلې ځلې، مبارزې او خدمتونه یاد کړل او د دین او ملت په خدمت کې یې د هغه د اول ستاینه وکړه.

دغه راز دوی شهید حقاني ته د فردوس جنت او کورنۍ ته یې د جمیل صبر غوښتنه څرګنده کړه.

## در ماه که گذشت بیش از ۱۱ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد



در جریان یک ماه (قوس) گذشته بیش از ۱۱ هزار خانواده بیجاشده، برگشت کننده، نیازمند و مستحق در ۲۲ ولایت ازطریق واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.

طبق گزارشات واصله واحد های دومی وزارت امور مهاجرین در ولایات (فاریاب، غزنی، سرپل، میدان وردک ننگرهار، پکتیکا، پکتیا، تخار، لغمان، کندز، جوزجان، بادغیس فراه، سمنگان، بغلان، نیمروز ،پروان؛ دایکندی، بلخ، کابل، کاپیسا و نورستان ۱۱ هزارو ۱۲۱ خانواده را با همکاری شماری از سازمان‌های مددرسانی بین المللی مساعدت نموده اند.

منابع اضافه نموده اند که مساعدتهای توزیع شده، شامل بسته های نقدی، صحی، وسایل آشپزخانه، خانه، وسایل مواد ساختمانی و مواد خوراکی بود که درحضور داشت نماینده های نهاد های کمک کننده توزیع شد.

بسم الله الرحمن الرحيم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۳۷گنه مرغومي۱۴۰۳ : شماره (۳۷) جدی ۱۴۰۳ : صفحه دوم : دويم مخ

راستنېدونکي اوونيزه
عودت هفته نامه



په ننگرهار ولايت کې لسگونو راستنېدونکو له حرفوي زده کړو څخه د فراغت سندونه تر لاسه کړل

## بلخ کې د راستنو شويو لپاره لسگونو سرپناوې گټې اخيستنې ته وسپارل شوې



په بلخ ولايت کې د ٦ ميليونه افغانيو په ارزښت له گاونډيو هېوادونو څخه د ۴۰ راستنو شويو کورنيو لپاره ۴۰ سرپناوې له جوړېدو وروسته گټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

دغه سرپناوې د بلخ ولايت د مهاجرينو چارو رياست په همغږۍ په شولگرې ولسوالۍ کې د نصرت الانسان خيريه بنسټ په مالي مرسته په پنځو مياشتو کې په اساسي ډول جوړې شوې دي.

د يو بل خبر له مخې، د مزارشريف ښار د فردوسي ښارگوټي او د بلخ ولايت د شولگرې ولسوالۍ په جلوزۍ کلي کې د طبيعي پېښو له امله پر زرو اړمنو، بېځايه شويو او زيانمنو شويو کورنيو خوراکي او غير خوراکي توکي ووېشل شول.

هرې کورنۍ ته يوه بوجۍ اوړه، يوه کوتی غوړي، يوه بوجۍ وريجې او يوه کمپله ووېشل شوې.

د بلخ مرستيال والي مولوي نورالهدي ابو ادريس د دغو مرستو منته وکړه او په نورو برخو کې يې هم له همکارو بنسټونو څخه د مرستو د دوام غوښتنه څرگنده کړه.

## کابل کې له لسگونه کورنيو سره نغدي مرسته وشوه



د کابل په اتمه ناحيه کې له ۸۰ اړمنو او مستحقو کورنيو سره نغدي مرسته وشوه.

دغه کورنۍ چې له وړاندې د کابل مهاجرينو رياست له لوري پېژندل شوې وې، هرې کورنۍ ته ۲ زره ۹۰۰ افغانۍ او د خوارځواکۍ د مخنيوي لپاره يوه بسته خوراکي مواد ورکړل شول.

د يو بل خبر له مخې، سرپل ولايت کې د مرغومي په ۱۳ مه نېټه له گاونډيو هېوادونو ۳ راستنو شويو کورنيو سره نغدي مرسته وشو.

په دې مرستو کې د ولايتي ټاکل شوې کمېټې له لورې هرې کورنۍ ته ۲ زره افغانۍ ورکړل شوې.

## ۱۰۰ تن ، در ولايت سرپل وسايل کار دريافت نمودند



برای ۱۰۰ تن در ولايت سرپل، وسايل کاری توزيع گرديد.

خانواده های متذکره شامل برگشت کننده گان و بيجاشد گان بودند که از جانب آمريت امور مهاجرين آن ولايت قبلاً در ولسوالی صياد و محلات مرکزی آن ولايت شناسايی و برای مدت ٦ ماه آموزش های فنی و حرفوی را نيز در بخش خياطی سپری نموده بودند که پس از آن ۱۳ قلم وسايل کاری بخش خياطی را از جانب کميشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان دريافت نمودند.

## په ننگرهار ولايت کې لسگونو راستنېدونکو له حرفوي زده کړو څخه د فراغت سندونه تر لاسه کړل



په ننگرهار ولايت کې ۵۰ راستنو شويو کډوالو د مرغومې مياشتې په ۴ مه نېټه د خياطۍ له حرفوي زده کړو د فراغت سندونه ترلاسه کړل.

ياد شوي کسان، چې مخکې د جلال اباد ښار په ځينو سيمو کې د دغه ولايت د مهاجرينو رياست له لوري سروې شوي و، چې د يوې همکارې موسسې په همکارۍ يې د خياطۍ په څانگه کې شپږ مياشتنۍ حرفوي زده کړې تر لاسه کړې. د ياد کورس له بشپړولو وروسته د تصديق سندونه او د يادې برخې وسايل پرې وويشل شول.

## ٥٦ تن از افغانهای محبوس و رد مرزی در پاکستان به کشور برگشت نمودند



٥٦ تن از افغانهای محبوس و رد مرزی از کشور پاکستان، از قيد آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمريت های سرحدی تورخم و سپين بولدک رياست های مهاجرين ولايات قندهار و ننگرهار افراد يادشده به دليل نداشتن اسناد قانونی مدت ۲ ماه الی يکسال را دربند بودند که پس از رهايی به وطن عودت و از جانب نهاد های همکار کمک های بشری را نيز دريافت نمودند.

## بدخشان کې ۱۰۰ کورنيو ته غيرخوراکي توکي ورکړل شول



د بدخشان ولايت د مهاجرينو چارو رياست په هلو ځلو او د همکار بنسټ په مالي مرسته د دغه ولايت په مرکز کې د مرغومي پر پنځلسمه نېټه له گاونډيو هېوادونو څخه ۱۰۰ راستنو شويو کورنيو هر يوې سره د څلور کمپلو او د ژمي د جامو يوې کڅوړې مرسته